
ډېر ترویج، ډېر تبلیغ
Ketabton.com
ژباړه: ویاړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

اي.فيشر

ډېرترويج، ډېرتبليغ

(د کمينترن له اسنادو څخه)

ژباړه: وياړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

دپرترویج، دپرتبلیغ

اي.فیشر

ژباړه:ویاړ

سمون:زېړ افغان

برېښنايي خپرېدنه او بیاکتنه: سنبله ۱۴۰۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

لړلیک

ډېرترويج، ډېرتبليغ.. ۱

د تبليغ او ترويج منځپانګه.. ۳

له چا سره خبرې او د چا لپاره ليکل کوو؟ ۷

نوې ژبه ۱۱

د هرڅه په اړه غبرګون خو چټک غبرګون.......................... ۱۵

د غليم د استدلالونو ناسموالی ثابت کړئ!........................ ۱۹

د ذهن او حواس کارونه... ۲۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېرترويج، ډېرتبليغ

پانګوالي يوازې د بانکونو، تراستونو[۱]، محکمو، قوانينو، پوځيانو، مالي ځواک او حکومتي نظام له لارې خپله واکمني نه ساتي، بلکې د دې واقعيت پر بنسټ هم حکومت کوي، چې د تبليغ او ترويج لپاره نږدې نامحدوده وسايل او امکانات په اختيار کې لري. ښوونه، تعليم او روزنه، علم او هنر، کتابونه او ورځپاڼې، راديوګانې، سينماګانې او تياترونه، دا ټول هره ورځ د واکمنې طبقې عقايد د ولسي پرګنو په ذهنونو کې پمپوي. دا هڅې د دې لپاره تر سره کېږي، چې د ستم ځپلو زيارکښو زړونه او ذهنونه خپلې لورې ته وکاږي، منحرف يې کړي، تر بريد لاندې يې ونيسي او اېل يې کړي. فاشيستي ديکتاتورۍ خپل تبليغ زيات او ګړندی کړی او ټول سازونه يې يو ډول ساز او د تبليغاتي وزارتونو ارکسترونه يې ځورونکې موسيقي غږوي.

زموږ ګڼ شمېر ملګري په خطرناک ډول لېوال دي، چې د غليمانو تبليغ او ترويج کم‌ارزښت وګڼي. هغوې د تبليغ او ترويج چارې ثانوي ګڼي او د دې موضوع د پوهېدو توان نلري، چې په اوسنيو شرايطو کې دقيقاً دا موضوع لاشديدې او لامتمرکزې پاملرنې ته اړتيا لري. دا د کمونيستي ګوندونو يوه مهمه دنده ده، چې د نويو لارو په کارولو سره هره ورځ د خپلو عقايدو په تبليغ کولو سره د فاشيزم

---

[۱] تراست د ځو شرکتونو له اتحاد څخه رامينځته کيږي، چې يو شانتې توکې توليدوي او د بازار عمده ونډه په اختيار کې لري. تراست د غړو شرکتونو ونډه په اماناته توګه ساتي، خو د ونډې مالکيت له شرکتونو سره وي. په تراست کې شرکتونه خپله مالي، فني او سوداګريزه خپلواکي له لاسه ورکوي. د تراستونو اتحادېې ته کنسرن وايي. پښتو.ژ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مقابله وکړي، هغه فاشيزم، چې هڅه کوي د هر ډول څرگندې او پټې وسيلې په کارولو سره د ولس د ذهنونو خاوند شي.

ولس ته زموږ د عقايدو د رسونې په موخه د هرې شونتيا کارونه او د فاشيستانو او رفورميستانو له استدلالونو سره مقابله، زموږ مهمه دنده ده. د دې لپاره چې په فاشيستي مسمومه فضا کې زموږ د اندونو تازه وږمه ولگيږي، د هر وخت په پرتله اوس تبليغ او بيا هم تبليغ د کمونيستي گوندونو مهمه وظيفه ده.

د بلوسگرو فاشيستانو او جگړه مارو په وړاندې د يوې بريالې مبارزې او د رفورميستانو د ويجاړونکو خيالونو په وړاندې د يو بريالي بريد لپاره، يوه ډېره مهمه مخکنۍ اړتيا زموږ دتبليغاتو کمي او کيفي رغول دي، چې ښايي د زياتو کتابونو، زياتو جزوو، زياتو ورځپاڼو، ښو کتابونو، ښو جزوو او د ښو ورځپاڼو د خپرولو له لارې تر سره شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تبليغ او ترويج منځپانګه

شايد د دې پوښتنې بيا راپورته کول چې په کراتو ځواب شوی، بابېزه ښکاره شي. خو څنګه چې په عمل کې زموږ ځينې ملګري د تبليغ او ترويج په توپير نه پوهېږي او ځينې يې داسې فکر کوي، چې د اوس لپاره بايد تبليغ څنډې ته کړو چې ترويج ته لار خلاصه شي، نو يو ځل بيا دې پوښتنې ته د لنين ځواب راوړو. لنين دا ځواب د پلخانف لخوا د وړاندې شوي تعريف په اړه ليکلی دی:

«موږ (له پلخانف او د کارګرانو د نړيوال غورځنګ له ټولو رهبرانو سره) تر اوسه فکر کاوه، چې يو مروج، چې مثلاً د وزګارتيا پر موضوع خبرې کوي، بايد د پانګوالۍ د کړکېچ منځپانګه توضيح کړي، په ننۍ ټولنه کې د کړکېچ حتمي رامنځته کېدل وسپېړي او دا تشريح کړي، چې څنګه ننۍ ټولنه بايد هرومرو په يوې سوسياليستي ټولنې بدله شي او...لنډه دا چې بايد «ډېر اندونه» وړاندې کړي؛ دومره ډېر چې يوازې (نسبتاً) لږ شمېر کسان به ورباندې پوه شي. خو يو مبلغ، چې د هماغې موضوع په اړه خبرې کوي، د توضيح لپاره داسې يو واقعيت انتخابوي چې مخاطبان يې په پراخ ډول وپېژني او ورته توپير ولري. د بېلګې په توګه د لوږې له امله د يو وزګار کارګر د کورنۍ مرګ، زياتېدونکې بېوزلي او … او د دې واقعيت په کاروونې سره «ولس» ته يوازې د يو اند، يعنې د شتمنۍ د زياتېدنې او د بېوزلۍ د ډېرېدنې تر منځ د احمقانه تضاد د ښودلو هڅه کوي. مبلغ به هڅه وکړي چې د دې ښرګندې بې عدالتۍ په وړاندې د ولسونو تر منځ قهر او نارضايتي راوپاروي او د دې تضاد بشپړه توضيح به مروج ته پرېږدي.»

(c) ketabton.com: The Digital Library

تبلیغ او ترویج باید د یو بل بشپړوونکي وي. هیڅ یو نباید د بل په بیه سپک وګڼل شي او یو د بل پر ځای وکارول شي. که ځینې ملګري دا وخت انګېري، چې کله موږ د خلکو د دموکراتیکو آزادیو لپاره مستقیماً تبلیغ کوو، نو ضروري ده چې دا تبلیغ او ترویج د پرولتاریا د دیکتاتورۍ د غوښتنې لپاره محدود کړو، دا ملګري تېروتلي(همدا ډول هغه کسان هم تېروتنه کوي، چې فکر کوي د «ژوندۍ دې وي د پرولتاریا دیکتاتوري!» د شعار له اضافه کولو پرته نشو کولای دې یا هغې مهمې غوښتې لپاره تبلیغ وکړو). آیا اړینه ده چې د متحدې جبهې د جوړونې او د ولسي جبهې د سازماندهۍ په موخه د خلکو تر مینځ د لا ښې لارې پیدا کولو په پار په خپلو تبلیغاتو کې له کمونیزم څخه یو څه کم وغږېږو؟ بر عکس، باید د کمونیزم په اړه، د شوراګانو د ځواک په اړه او د خپلو آرونو په اړه لا زیاتې خبرې وکړو، خو یوازې په مناسبو شرایطو کې. موږ باید د ولس بلاواسطه تجربې، اړتیاوې او غوښتنې د خپل تبلیغ د پیل ټکی وګرځو او پوښتنو ته باید په روڼ او څرګند ډول، بې له دې چې په اوږدو کړکېچنو توضیحاتو او تیوریکو پېچلو موضوعاتو یې لا پېچلې کړو، ځواب ووایو. خو په ورته وخت کې باید خپل سیاست توضیح او دلایل یې روښانه کړو، لرلید یې انځور او دا ښکاره کړو، چې څنګه د پرولتاریا د دیکتاتورۍ لپاره، دا سیاست زموږ له مبارزې سره تړاو لري.

په تبلیغي کار کې د پرګنو د ملموسو چارو، له هغو مسایلو څخه کار اخلو چې د چاودېدونکو توکو بنه لري او د ولس لخوا په سیده ډول د پوهېدنې وړ دي، لکه د لوږې له امله د یو وزګار کارګر مړینه، د درغلۍ یوه پېښه، د یوې طبقاتي محکمې د مرګوني حکم په شان یوه مسئله او.... موږ پر دې موضوعاتو ټینګار کوو، په داسې حال کې چې عمداً له ډېرو نورو مسایلو، چې رسوایي یې کمه ده تېرېږو، خو په ورته وخت کې په خپل ترویج کې ښکاره کوو، چې د لوږې له امله د یو وزګار کارګر مړینه او ورته پېښې په هیڅ ډول ناڅاپي نه، بلکې د پانګوالۍ نښې دي او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسې ناتارونو د بې پايه تکرار مخه يوازې هغه وخت نيول کيږي، چې پانګوالي نابوده او سوسياليسي ټولنه جوړه شي.

موږ بايد له دې بد او بې مانا عادت څخه، چې ټول شيان په يوې تبليغاتي وينا يا مقاله کې ځای پر ځای او ټول استدلالونه او غوښتنې مو په هغه کې کتار کړو، ډډه وکړو. موږ له داسې ويناوو او مقالو سره آشنا يوو، چې له پيل څخه تر پايه پورې له استدلالونو او غوښتونو ډکې دي، چې د ولسونو د ويښونې او هڅونې په ځای په ډېر احتمال سره هغوې وېده کوي. په تبليغاتي ويناوو او مقالو کې موږ ټول شيان پر يوه واحد فکر، پر يو واحد شعار متمرکز کوو، چې خپل «تز» له هره پلوه پراخه کړای شوو. البته کولای شو په تبليغ کې ډېرې موضوع‌ګانې ولس ته ووايو، خو د يو مبلغ هنر دا دی چې په هره شېبه کې هغه څه ووايي چې له ټولو زيات اغېزمن وي، يوازې هغه مطالب ووايي چې په هماغه ټاکلې شېبه کې بې‌له تفصيلي استدلال څخه ولس راوپاروي.

زموږ د فرانسوي ملګرو دا شعار چې «شتمن اړ کړئ چې دريې کړي» په تبليغ کې د مهارت ځلاندتيا ده. ولس ته دا شعار د ورځې په شان روښانه دی او بې‌له تفصيلي او اوږدو توضيحاتو د هغوې ذهن ته ننوځي او له بشپړو استدلالونو پرته هغوې معتقدوي او د کرکې بځرکي يې په لمبو بدلوي. خو په توضيحي کار کې موږ تل وايو چې بايد د موضوع په هکله لامخ ته لاړ شو او دا توضيح کړو، چې يوازې د پرولتاريا ديکتاتوري، يوازې شورايي ځواک کولای شي د تل لپاره د زيارکښانو اړتياوې پوره او بېوزلي يې پای ته ورسوي. دا وخت ډېري ولسي پرګني د دې اندونو په اړه شکمن او ان منفي فکرونه لري، خو زموږ تبليغ او ترويج د دې منل بايد هغوې ته اسان کړي. نو موږ بايد تل ترويج او تبليغ د يو بل بشپړوونکي

(c) ketabton.com: The Digital Library

وګرځوو، د هغوۍ تر منځ اړیکه په سمه توګه ټینګه او دواړه د پرمختیا تر څنګ بډایه کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له چا سره خبرې او د چا لپاره ليکل کوو؟

لومړنۍ پوښتنه چې له ځانه يې بايد وکړو:له چا سره خبرې او د چا لپاره ليکل کوو؟ آيا مخاطبين مو گوندي ملگري دي، که غيرگوندي کارگران او يا د نورو گوندونو غړي؟ آيا له هغو کارگرانو سره خبرې کوو، چې موږ پېژني او پر موږ باور لري، يا مخاطبين مو هغه زيارکښان، هغه دهقانان او خپلواکه کسبگران او روڼاندي دي، چې پر موږ لا اعتماد نلري؟ آيا ټولو زيارکښو ولسونو ته، که يوې ځانگړې طبقې او ځانگړو ډلې يا پوړ لپاره مشخصه وينا ليکو؟ آيا کومه ځانگړې مقاله د ځوانانو لپاره ليکو، که په يوې سترې صنعتي سيمې کې د کارگرانو او يا د هقانانو لپاره؟ مخاطبين مو څوک دي، څوک بايد زموږ له کليمو اغېزمن شي او کومه ځانگړې پايله بايد تر لاسه شي؟ دا لومړنۍ پوښتنه ده، هغه پوښتنه چې اکثراً يې څوک نه کوي او ځواب يې هم نه ورکول کيږي. شته داسې کسان، چې په ولسي ناستو کې هماغه ويناوې کوي، چې په گوندي سيمه ايزو کنفرانسونو کې يې هم کوي؛ د ځوانانو په غونډو کې کټ مټ هغسې خبرې کوي چې له زړو او سپين ږيرو فعالينو سره يې کوي او... په ټوليز ډول هغوې له خلکو سره ژوندې خبرې نکوي، بلکې له هغه مجرد مخاطب سره غږيږي چې بايد د ويناوالو له اندونو څخه د اغېزمن کېدلو په پار په خپله زحمت وگالي، د دې په ځای، چې ويناوال زحمت وباسي، چې د اورېدونکو ذهنونه په خپلو عقايدو اغېزمن کړي. دا هغه ويناوې او مقالې دي، چې احتمالاً د نړۍ د تاريخ د آرشيفونو لپاره ليکل شوي دي، يا د هغو ملا نقطيانو لپاره، چې پر هر څه نيوکه کوي او يا هم د عالمانو او دانشمندانو لپاره، نه د هغه ولس لپاره، چې د دې مقالو او ويناوو مخاطبان بايد واوسي. له تيوريکه پلوه پر دې ډول زياتو ويناوو او مقالو نيوکه نشو کولای؛ هغوې يوازې يوه کوچنۍ نيمگړتيا لري، لوستونکې يې له لوستلو وروسته بی تفاوته پاتې کيږي او هيڅ ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library

غبرگون یې نه راپاروي. دا کافی نه ده، هغه څه چې وایو اشتباه ونلري، بلکې داسې یې باید ووایو، چې په ځانگړو شرایطو کې پر خاصو ډلو، پوړونو او پر ولسي پرگنو اغېزه وکړي.

زموږ مبلغین او مروجین باید د گویته دا خبرداری، چې «فکر وکړه چې څه ووایې، خو له دې زیات په دې فکر وکړه چې څنگه یې ووایې» په یاد ولري. د دې لپاره چې دا خبرداری په بشپړه توگه په پام کې ونیول شي، نو باید په دې پوه شوو چې له چا سره خبرې کوو، د چا لپاره لیکل کوو؛ کوم موضوعات مو لوستونکي او اورېدونکي راپاروي او له ټولو مهمه په اوسنیو شرایطو کې د کومو پوښتنو د ځوابونو په لټه کې دي، په کومو ناسمو استدلالونو یې ذهنونه ورډک کړي او کوم ټولنیز او سیاسي چاپېریال وربانديې اغېزه لري.اړینه ده چې د خلکو هیلې او اړتیاوې، امیدونه او اندېښنې د پیل ټکی وگرځوو، نه هغه تزونه او پرېکړې، چې لا هڅه کوو پر سموالي یې خلک باورمن او د پلی کېدلو لپاره یې راجلب کړو.

ملگري دیمتریوف د کمونیستي انترناسیونال اومې کنگرې ته په خپلې اختتامیه وینا کې پر هغو کمونیستانو، چې ساده او مشخص غږېدلی نشي او د ولس لپاره ملموس او د پوهېدو وړ انځورونه کارولی نشي او د حفظ کړي انتزاعي فورمولونو کارول بندولی نشي، په کلکه نیوکه وکړه. ملگري دیمتریوف وویل:

> «زموږ گڼ ملگري داسې انگېري، چې هر څومره ولس ته اوږده پرېږه ووایي او د نه پوهېدو وړ فورمولونه او تزونه[۲]

---

[۲] دیالکتیک ماتریالیزم په دې باور دی چې هره ښکارنده له دوو اضدادو(تز او انتی تز) جوړه شوې. دا اضداد د ښکارندې د حرکت او بدلون لامل کیږي. هر کله چې «انتی تز» غالب شي، نوې ښکارنده، چې «سنتز» ورته وایي رامینځته کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکاروي، نو تهییج او تبلیغ به یې ګټور وي. خو دوې هېروي، چې زموږ په عصر کې د کارګرې طبقې سترو رهبرانو او تئوریسنانو، یعنی لنین او ستالین، به تل په بشپړه ولسي ژبې خبرې او لیکل کول، هغه ژبه چې پراخو ولسي پرګنو ته د پوهېدو وړ وه. موږ باید هر یو دا یو قانون، یو بلشویکي قانون، یو لومړنی قانون وګڼو چې:د لیکلو یا خبرو پر مهال تل باید عادي کارګران په پام کې ولرو، باید زموږ په خبره پوه شي، پر غوښتنه مو باور وکړي او له موږ څخه د پیروۍ لپاره چمتوالی وښيي! باید هغه څوک په پام کې ونیسو، چې لیکل او خبرې ورته کوو.»

دا یو تاریخي واقعیت دی، چې د ټولو مهمو مسئلو په تړاو حقیقت له موږ کمونیستانو سره دی، خو ولس باید په دې موضوع باورمن کړو. یوازې هغه وخت موږ په حقه پاتې کیږو، چې نه د لنډاکه اصولي افرادو په څېر، بلکې د واقعي

په دیالکتیکي بدلون کې «تز»د «انتی تز» په وسیله نفی کیږي او «انتی تز» هم په یو «سنتز» نفی کیږي، خو نوې ښکارنده («سنتز») د پخوانۍ په پرتله نوې او کامله ده. په بله وینا هر «تز» خپل نقیض چې «انتی تز» دی رامنیځته کوي، چې د دې دواړو د تضاد له کبله یوه بله ښکارنده، چې «سنتز» نومیږي، رامینځته کیږي.

که په اند او فکر کې دا اړیکه په پام کې ونیسو، نو ویلی شوو چې یو ځانګړی لومړنی اند او فکر ته «تز» ویل کیږي، په بل اند او فکر د دې لومړني اند او فکر نفی ته «انتی تز» وایي او «سنتز» هغه وخت رامنځته کیږي چې د دوو متضادو مخکنیو اندونو («تز» او «انتی تز»)یوه ځانګړې پایله د نوې اند او فکر په توګه، چې د پخوانیو په پرتله پرمختللې او مکمله ده رامنځته شي. پښتو.ژ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مروجینو او مبلغینو په توګه هغوې ته نژدې شوو. په دې باید پوه شوو، چې د پرګنو د ژبې زده کول زموږ دنده ده، نه دا چې پرګني دې زموږ ژبه همدا نن زده کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوې ژبه

په ډېرو مصوبو کې دا موضوع، چې«باید په نوې ژبه خبرې وکړو!»، په ډاګه شوې ده، خو پلی کېدل یې پخ روان دي. دا د نوې ژبې مسئله، هغه ژبه چې میلیونونه انسانان مبارزې ته هڅوي، یوازې د سبک مسئله نه ده، بلکې له هر څه لومړی د لورلید موضوع ده. د کمونیستي انترناسیونال یو ګوند په دې اړه یوه بېلګه رامنځته کړی ده. د فرانسې کمونیست ګوند هغه ګوند دی، چې په یوې بشپړې نوې، ځواکمنې او شتمنې ژبې باندې خبرې کوي.

دا کومه ژبه ده؟ زموږ فرانسوي ملګري په رښتیا هم د خپل ولس په ژبې، د فرانسوي وګړو په ژبې، په خپلې پخوانۍ بډایه ژبې، د ولتر[3] یا د دُنی دیدرو[4] په ژبې، د انقلاب په ژبې، د واقعیت په ژبې او د حال په ژبې خبرې کوي.

موږ څنګه کولای شوو دا ولسي ژبه، دا د وګړو ژبه زده کړوو؟ د ترڵو دروازو او کړکیو تر شا یې زده کولای نشو. یوازې د دروازو او کړکیو په بشپړه پرانیستلو او د

---

[3] فرانسوا ماری آروئه(ولتر)(۱۶۹۴-۱۷۷۸)د فرانسې د روښانتیایي پېر د نومیالیو فیلسوفانو او لیکوالانو له ډلې څخه دی. هغه له کاتولیک کلیسا سره د مخالفت، له مذهبي آزادۍ څخه د ملاتړ او له سیاست څخه د دین د جلاینې لپاره مشهور و. په ۱۷۱۵ کال کې د دویم فیلیپ په ضد ځینې شعرونه وویل، چې د هغو له کبله یې په باستیل کې بندي کړ.

[4] دُنی دیدرو (۱۷۱۳ـ۱۷۷۴) د فرانسې د روښانتیایي پېر فیلسوف او لیکوال و. په ۱۷۴۶ کال کې یو کتاب ولیکلو، چې د مسیحي عقایدو ضد له امله د پاریس د پارلمان لخوا ټولې نسخې یې وسوځول شوې. دیدرو په ۱۷۴۹ کال کې «د یو ړوند لیک» کتاب کې د خدای د شتون په اړه پوښتنې مطرح کړی او له همدې کبله درې میاشتې بندي شو. دیدرو یوځای لیکي: «د تعصب او بربریت تر منځ واټن تر یو ګام زیات نه دی.» پښتو.ژ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغې تازه هوا ورمو ته، چې ولسي پرګني يې تنفسوي، په اجازې ورکولو سره يې زده کولای شوو. هغه وخت يې زده کولای شوو، چې د خپل هېواد او ولس د برخليک او راتلونکي په اړه خپل مسووليت احساس کړو.

دمګړۍ د«۲۰۰ کورنيو په وړاندې د ولس د پيوستون» لپاره زموږ د فرانسوي ملګرو تبليغ له يوې ځلاندې سبک لرونکې هجا زياته ده:«موږ فرانسه يوو، دفرانسې ولس او هېواد يوو، موږ کمونيستان د ولس، د هېواد د پايېدنې، د هغه د کلتور او د بې پايه بډاينې قاطع او جدي مدافعين يوو، زموږ هېواد د څو سوه کورنيو په لاسونو، چې د پانګوالۍ د زېښناک ښکارندويې دي، لوټل کېږي. موږ يوه ګوښه شوې ډله نه يوو، چې د ترږلو دروازو تر شا په بحث اخته ووسو، موږ د ولس زړه او ماغزه يوو، هغه ګوند يوو، چې يوه ورځ به فرانسه وي.» دا ډول تبليغ د يو ستر او اصيل احساس ځلا ده او داسې نوې ژبه له يوې نوې تاکتيکي طريقې څخه سرچينه اخلي.

ډېر داسې شيان شته چې له فرانسوي ملګرو، له فرانسوي ولسي ترانو او د فرانسوي ادبياتو له استادانه پنځونې يې بايد زده کړو. د فرانسويان د هېواد ځلاند لمر او د انقلابي تاريخ ځلانده رڼا د هغوې ژبې ته لار مومي. کله چې «تورز»[۵] په کنګره کې خپله وينا د وچو تحليلونو پر ځای د فرانسې ژبې د حيرانونکې ښکلا او بډاينې په ستايلو پيلوي، د فرانسې د کمونيست ګوند ژبه او دريځ څرګندوي.

---

[۵] موريس تورز (۱۹۰۰-۱۹٦۴) د فرانسې د کمونيست ګوند(۱۹۳۰-۱۹٦۴) رهبر و. هغه د يوې لنډې مودې لپاره د سکرو کان کارګر و. تورز وتوانېد چې د فرانسې کمونيست ګوند له يوې فرقې څخه په يو ولسي تشکيلات بدل او په همدې وياړ د ګوند عمومي مسوول شو. پښتو.ژ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په نورو کمونیستي گوندونو کې زموږ ملگرو هڅه کړې، چې په تصنعي ډول په اصطلاح نوې ژبه وزېږوي، هڅه یې کړې خپلې ویناوې او مقالې په هغو کلیمو او عبارتونو سینگار کړي، چې فاشیستان یې کاروي. د دې پر ځای چې د اړتیا وړ شیان د خپلو خلکو د شتمنې ژبې له سرچینې واخلي، کوښښ یې کړی، چې خپله ژبه د دښمن له ژبې سره منطبق کړي. دا یو غلط او خطرناک درک دی.

په المان کې له دې څه غلط کیداې نشي، چې د هیتلر او گوبلس[٦] د کرکجنې ژبې ځینې عبارتونه وکارول شي. بالعکس، موږ باید د دهقاني جگړو ژبه او ولسي ترانې زده کړو، د لیسینگ او گوته[٧]، بوشینه او هانیه[٨] ژبه، د المان د پرگنو شتمنه او ازاده

---

[٦] پاول یوزف گوبلس(۱۸۹۷ - ـ۱۹۴۵)د المان ناسیونال سوسیالیست سیاستوال و، چې له ۱۹۳۳تر ۱۹۴۵ پورې یې د دریم رایش د اطلاعاتو وزارت مسئولیت په غاړه درلود او د آدولف هیتلر له مرگ وروسته د دې واکمنۍ وروستی صدراعظم گڼل کیده. گوبلس په ۱۹۲۴ کې د نازي گوند غړی شو او په برلین ایالت کې د گوند ریاست ته ورسید.هغه وتوانېد چې په لنډه موده کې د وخت ټولې رسنۍ همغږې او د خپل کنترول لاندې راولي. گوبلس د سیاسي تبلیغاتو لپاره د یوې رسنۍ په توگه د فلم ځواک او قدرت ډېر ژر وپېژندو او په عمومي افکارو کې د اغېزې لپاره یې ترې ډېره گټه واخېستله. پښتو.ژ.

[٧] گوتهلد لیسینگ(۱۷۲۹-۱۷۸۱)د المان د روښانتیایي پېر فیلسوف، ورځپاڼه لیکونکی، هنري کره کتونکی او لیکوال و ،چې کارونو یې د المان د ادبیاتو پر بډاینې خورا زیاته اغېزه درلودلې ده.

یوهان ولفکانگ فون گوته(۱۷۴۹ - ۱۸۳۲) الماني شاعر، ادیب، لیکوال، نقاش، څېړونکی او فیسلوف و. «فائوست» د هغه یوه بریالۍ پنځونه گڼل کیږي، چې په کې اصلي شخصیت د بریالیتوب او شهرت په خاطر خپل روح په شیطان پلوري، دا ډول پنځونه د خلکو تر منځ د کلیسا او مذهب پر ضد څرگندونو، بدل شول. پښتو.ژ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژبه زده کړو. له دې باید ونه ډاریږو، چې تېروتنه وکړو.بې‌له تېروتنې یې یادولی نشو. په دې اړه باید بحث وکړو. شاید کله نا کله سم لحن غوره نکړو، خو که د پربکړه لیکونو په وچې او ستومانه کوونکی ژبې خبرې ونکړو، بلکې د ولسونو په ښکلې او ژوندۍ ژبه وغږیږو، نو موږ به درک کړي.

---

[8] کارل جورج بوشنیه (۱۸۱۳ـ۱۸۳۷) الماني شاعر او لیکوال او د المان د ځوان غورځنګ فعال و. هغه یو انقلابي لیکوال و، که څه هم لیکنې کمی دي، خو په المان کې ورته په درناوی کتل کیږي.

هاینریش هاینه (۱۷۹۷ـ۱۸۵٦) الماني شاعر، لیکوال او د ادبیاتو کره کتونکي و. هاینه د المان د ځوان غورځنګ غړی و. رادیکال سیاسي لیددود یې لامل شوی و، چې الماني چارواکي یې ډېر آثار ممنوع کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هرڅه په اړه غبرګون خو چټک غبرګون

موږ باید د هر هغه څه په اړه، چې د ولس احساس راپاروي او خلک ورسره لېوالتیا لري، غبرګون وښیو، هغه هم چټک غبرګون. په دې برخه کې باید له فرانسوي ملګرو، د هغوې د کنګرې له بېلګې، د هغوې له ویناوو او د هغوې د مرکزي ارګان له«اومانیته» څخه زده کړوو. په ټولنیز ژوند کې داسې یوه مسئله هم نشته چې هغوې یې په اړه بی تفاوته پاتې شي. څومره ناسمه ده، چې یو کمونیست ووایي «دا ما پورې اړه نلري» نه، ټول شیان موږ پورې اړه لري، که له اقتصادي چارو سره تړاو ولري، که له ښوونځي سره او که له بهرني سیاست سره، که له کورنۍ سره، یا د بهرنیو تادیاتو له بیلانس سره یا هم له کلتوري زوال سره.

زموږ تبلیغ او ترویج باید بېلابېل ډولونه ولري، هر اړخیز وي او پراخې برخې راونغاړي او یوازې د خلکو اقتصادي غوښتنې نه، بلکې د هغوې هره غوښتنه په پام کې ونیسي. موږ کمونیستانو هوډ کړې، چې نړۍ له سره جوړه کړو، نو د هر هغه څه په اړه، چې په پانګواله نړۍ کې پېښېږي، خپل نظر او باور لرو. کله ناکله ځینې مسئلې په ظاهره فرعي ښکاري، خو داسې مسئلې چې پر ولس په سیده توګه اغېزه کوي، باید د تبلیغ لپاره وکارول شي. د بېلګې په توګه پر غلاتو د نویو مالیاتو د وضع کولو پر ځای، شوني ده چې یوه بشپړه مفتضحه محاکمه، د بیرغ مسئله یا د یو فلم نندارہ، د ولس تر مینځ د زیاتو او مستقیمو پارولو لامل شي.

زموږ تبلیغ باید د کُلي آرونو پر ځای د ژوندانه له شته واقعیتونو راوپنځول شي.دا په ځانګړي توګه زموږ د سیمه ایز تبلیغ په اړه صدق کوي.په یوه ولسوالۍ کې، په هغه هېواد کې چې هلته زموږ ګوند غیر قانوني دی، دوه ماشومان له لوږې مړه شول، خو زموږ د ګوند سیمه ایزې ورځپاڼې د جاپان په اړه سرمقاله خپره کړه. یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بله بېلگه له یو فاشیستي هېواد څخه په پام کې نیسو. په یوې سترې کارخانې کې کارگرانو یو اعتراضي اعتصاب پیل کړ، خو سیمه ایزې کمیټې د دې اعتصاب راپور په وروستۍ پاڼه کې چاپ کړ او نورې ټولې پاڼې یې کلي سیاسي چارو ته بېلې کړې وې. دا د تبلیغ ضعیفه ډولونه دي. موږ د هغو مسئلو په اړه چې پارونکي دي، هغه مسئلې چې په ځانگړو شېبو کې ولس اندېښمنوي او ځوروي، باید بې له ځنډه وغږېږو، ان که د دې خطر منلو ته اړ شو، چې شونې ده، دریځ مو سل په سلو کې سم نه وي.

د دې تر څنگه، چې د ورځې ټولو مسئلو ته په چټکۍ سره غبرگون ښکاره کوو، لیکنیز کلام ته باید زیات ارزښت ورکړو او شفاهي تبلیغ هم کم ارزښته ونه گڼو. زموږ ځینې ملگري انگېري، چې د یوې اعلامیې په بیړه چمتو کول د تبلیغ پرتمینه څوکه ده او همدا چې اعلامیه ولیکل شي، نو د گوند دنده تر سره شوې ده. دا د مستقیم، خولې په خولې او له یو کس څخه بل کس ته د ژوندي تبلیغ د ارزښت کم گڼل دي. د اعلامیې خپرول ضروري دي، که چېرې په بل ډول ونشو کړای خلکو ته لاسرسی ولرو او یا اړتیا وي چې پراخه ولسي پرگنې له یوې چارې په چټکۍخبر او د گوند په دریځ یې پوه کړو، خو اعلامیه نشي کولای د شفاهي تبلیغ یا د ورځپاڼې یا جزوې ځای ونیسي.

په ځانگړې ځیرتیا سره باید شعارونه غوره کړو. له شعارونو اوږده لړۍ جوړه نکړو. ولس نباید د شعارونو له اوږده لست سره مخامخ کړو، دا کار یوازې مغشوشتیا رامنځته کوي او د هر بېلابېل شعار ضربتي ځواک کموي. زموږ تبلیغ نباید یوډول او ستومانه کوونکی لحن ولري. باید د زیارکښو د ټولنیز ژوند بېلابېلې بڼې، گټې او اړتیاوې په پام کې ونیسي او په نه ستومانه کېدوونکي جدیت او په دوامداره توگه، لکه د څټک د گوزارونو په شان د ولس د پوهې منځ ته ولېږدول شي، داسې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

له اغېزې یې څوک خوندي پاتې نشي. د دې څواکمنتیا د لاسته راوړلو لپاره زموږ شعارونه باید مستقیماً د ولس لپاره د پوهېدنې وړ وي. باید د هغوې له سترو هیلو سره تړاو ولري. پېچلي او دوه اړخیزه شعارونه باید ورنکړی شي.

باید د دښمنانو له تبلیغاتي تجربو څخه زده کړو. خو په هیڅ ډول شرایطو کې له هغو ابهامي عناصرو څخه، چې غالباً فاشیزم یې کاروي نباید استفاده وکړو. په روسیې کې د فبروري انقلاب وروسته د بلشویکانو شعار، «ډوډۍ، سوله، آزادي» د کمینترن ځینو برخو ته یوه بېلګه ده.زموږ د فرانسوي ملګرو دا شعار «شتمن اړ کړئ، چې دریې کړي» هم همدا ځانګړنه لري.

زموږ شعارونه باید روښانه او ساده او د هر چا لپاره، ان که له سیاسي پلوه مجرب هم نه وي، د پوهېدلو وړ وي. دا شعارونه باید واقعاً د پلی کېدو وړ وي، په هغه راتلونکي کې د پلی کېدو وړ وي، چې ډېر لېرې ونه برېښي. شعارونه باید ولس ته عملي ښکاره شي؛ هغه شعارونه، که هرڅومره هم زموږ له کړنلارې سره نه پرېکېدونکی تړاو ولري، خو چې مخاطبو ولسونو ته د پوهېدلو وړ نه وي او یا غیر عملي وي، بد شعارونه دي. ډلپالنه به وي، چې داسې شعارونه ورکړو او ځان په دې ډاډه کړو، چې« ولس که نه پوهېږي، دا د هغوې نیمګړتیا ده، موږ له تاریخي پلوه په حقه یوو، نه هغوې چې موږ ته غوږ نه نیسي.» زموږ د ترویج او تبلیغ موخه د ولسونو متقاعدول دي، البته عالي به وی که ولس همدا اوس چمتوالی ښودلی وای، چې د پرولتاریا د دیکتاتورۍ لپاره په مستقیم ډول اقدام وکړي، خو څنګه چې دې عمل ته چمتوالی نلري، نو باید په لومړیو کې داسې شعارونه ورکړو، چې ولس مبارزې ته وهڅوي. که داسې شعارونه ورکړو چې په خپل ذات کې سم، خو انتزاعي وي او له لېرې راتلونکي سره تړاو ولري او د ولس له اړتیاوو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

مستقيمه اړيکه ونلري، دا بد تبليغ دی. ښه تبليغ دا دی، چې د ولس هيلې او د گوند اراده په څو لنډو، ساده او مانادار جملو کې ووايو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غلیم د استدلالونو ناسموالی ثابت کړئ!

زموږ تبلیغ له هغو دندو او امکاناتو څخه تر اوسه ډېر وروسته پاتې دی، چې ګوند ورسره مخامخ دی. پراخه ولسي پرګني په حرکت راغلي دي، هغوی د زړې پانګوالې نړۍ په نه پایښت او په نه اعتبار پوه شوي دي. هغوی د کړکېچ او د جګړې له خطر څخه د وتلو په لټه کې دي. زړونه یې، ذهنونه یې له هر وخت نه ډېر د نوې وضعې په تمه دي. هغوې د شوروي سوسیالیستي جمهوریتونو اتحاد او کمونیزم ته، له هره وخته ډېر لېوال دي. هغوی سلګونه پوښتنې لري او غواړي چې سلګونو پوښتنو ته یې ځوابونه ووایو، خو هغوې یوازې موږ ته غوږ نه نیسي، «د روح تاړاکګرو» فاشیستانو ته هم غوږ ږدي.

ولس نوي شیان غواړي، هغه ځواکمن شیان، چې پر راتلونکي یې اغېزه وکړای شي. نو له هر وخت څخه ډېره مهمه ده چې له ځواکمنو تبلیغاتو سره د ولس ټولو پوښتنو ته ځوابونه ووایو او د غلیمانو د استدلالونو ناسموالی ثابت کړو.د هغوی لپاره چې مرستې ته اړتیا لري، باید پراخ ډګر پرانیزو.

کله له دې احساس څخه خلاصېدل ناشونې دي، چې موږ په ټاکلې تاریخي شېبې کې خپل رول او د دندو ستروالی په سمه توګه درکولای نشو. میلیونونو خلکو موږ ته غوږ ایښي، خو موږ ډېر لږ څه د ویلو لپاره ورته لرو. موږ باید د ټولو هغو کسانو ګډون، چې له موږ سره هم باوري دي او یا د دې باور پلویان دي، ترلاسه کړو.د ټولو هغو کسانو ګډون لاس ته راوړو، چې د لیکلو توان لري او په نوښتګره ډول هغه څه بیانولی شي، چې موږ د هغه لپاره جنګیږو. نو باید د کتابونو، رسالو او ورځپاڼو یو بشپړ پوځ جوړ کړو او په مرسته یې د غلیم له وېروونکو تبلیغاتو سره مقابله وکړو. باید د شوروي د جمهوریتونو د اتحاد لپاره تبلیغ وکړو، خو نوی او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوندی تبلیغ. نړیوالو ته ووایو چې څنګه د سوسیالیستي شوروي د جمهوریتونو د اتحاد ملتونه ژوندي او راویښېږي او هلته ځوانان څرنګه ژوند کوي، پرولتري دموکراسي څنګه پراختیا مومي. نوی اتل انسان څنګه رازېږېږي، څنګه له کوچنیتوب څخه بلوغ ته رسیږي؛ دا ټول باید د پرېکړه لیکونو او رسمي ګزارشونو په ستومانه کوونکې ژبې نه، بلکې د ژوندیو تجربیاتو په ژبه، په هغه ژبه چې شتمنه او بډایه ده، ووایو. باید د جګړې ضد کتابونه ولیکو، د ولسي جبهې په اړه، د دموکراسۍ په اړه، د کمونیستي انترناسیونال د مرام په اړه او له ټولو زیات د خپلو اصولو په اړه، د شوراګانو د ځواک په اړه، د کمونیستي نړۍ لید په اړه باید کتابونه ولیکو. د تاریخ منځپانګې ته باید پام وکړو او له پنډ قلم او ځلانده رنګونو سره د کمونیزم په لور د بشر لاره، د ښادۍ او آزادۍ، د خلاق کار او د وروروليې د ټاټوبي لپاره د بشر مبارزه انځور کړو. په داسې حال کې چې د نوې نړۍ په درشل کې ودرېدلي یوو، باید په زړورتیا د دې نوې نړۍ له پرتم او بډاینې څخه وغږېږو. باید تر ټولو لومړی او له ټولو زیات هغه ځوانان راجلب کړو، چې فاشیزم هڅه کوي د خپلې ایدئولوژۍ تر اغېزې لاندې یې راولي.د فاشیزم ایدئولوژي د زوال او نابودۍ تر سیورې لاندې پټه شوې او د فساد نښې نښانې پکې ځلېږي. دې ایدئولوژۍ تر یوې کچې ځوانان اغېزمن کړي او ښایي په ضد یې جدي او بیرحمانه مبارزه وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ذهن او حواس کارونه

تبلیغات نباید په عامي ګرۍ بدل کړو.په ولسي میټینګونو کې د پارولو لپاره کولای شوو په یوه مسخره داستان دښمن وځپو. خو په تبلیغاتو کې باید ټولو استدلالونو ته، په لومړي پړاو کې هغه استدلالونو ته ځوابونه ووایو، چې تر ټولو زیات اغېزه لري او جدي ګڼل کیږي. ځینې مبلغان ځان له په خپله دښمن جوړوي، بیا له متن څخه ځینې نقل قولونه راوباسي، هغه سره ځیرې ځیرې کوي او فکر کوي چې د دښمن کار یې ختم کړی دی. دوی اغلب معکوسه پایله تر لاسه کوي.البته موږ باید د خپل دښمن شوده توب بربنډ کړو، خو لومړی باید د دښمن پر هغو استدلالونو تمرکز وکړو، چې پر خلکو واقعاً اغېز کوي. د دې کار لپاره باید موږ د لوستونکي ذهن ته لار پیدا کړو، خو یوازې په دې هم نشو کولای د د ښمن ایډیولوژیک دریځ ولړزو، تر څنګ باید د لوستونکي احساس هم راوپارو.

دا لویه تېروتنه ده، چې فرض وکړو ډېری مسائل له مخکې پېژندل شوي او څرګند دي. ډېر وخت موږ هغه شیان «څرګند» ګڼو، چې له نورو زیات لوستونکو ته فکري ستونزې پیدا کوي، دا هغه شیان دي چې توضیح یې زموږ لومړنۍ دنده ده. د هر کتاب او هرې جزوې په خپرولو کې باید په پام کې ولرو چې دا شاید ډېرو کسانو ته زموږ د عقایدو د بیانولو لومړنی کتاب یا لومړنۍ جزوه وي. د لومړني کتاب یا جزوې له لوستلو وروسته شونې ده، هغوی وغواړي چې زموږ په اړه نور هم پوه شي، خو په نهیلي سره به ووایي:«دا یو ډول مرموزه ژبه ده، چې ورباندې نه پوهېږو.»

زموږ د تبلیغاتو هر محصول باید پر خپلو پښو ودریږي، باید تاند، هراړخیز او د پوهېدلو وړ وي. باید تل په پام کې ولرو، چې دا مهال زموږ د تبلیغاتو مخاطبین

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګڼ شمېر غیر مارکسیستان دي، چې زموږ د عقایدو له بېلابېلو برخو څخه مبهمه پوهه ولري. دوی شاید زموږ هر عبارت تر ذره‌بین لاندې و نه ارزوي، خو په څرګنده توګه احساسوي، هغه څه چې ورته وایو ځواکمن، ژوندي او نره دي او که یوازې د هغو زړورو او سترو کمونیستي عقایدو، چې د نړۍ د بدلولو په لټه کې دي، یو دګم او مړځپن انعکاس دی. موږ باید دا نوي خلک، چې موږ ته غوږ ږدي، په پام کې ونیسو او باید په نوې ژبه خبرې وکړو چې نه یوازې د پوهېدلو وړ وي، بلکې پارونکي هم وي.

سترې دندې او ستر امکانات مو مخې ته پراته دي، د دې دندو د پلي کېدو او د دې امکاناتو د بشپړه کاروولو لپاره باید خپل تبلیغات تر وروستي بریده زیات او پیاوړي کړو. زموږ د غږونو اوچت او روښانه فریادونه باید له بېوزلو سره مرسته وکړي، متزلزلو انسانانو ته ثبات ورپه برخه کړي او مبارزین په هوډیالي قاطعیت سمبال کړي. مناسب تبلیغ به د پانګوالۍ د درواغو دیوالونه ړنګ کړي، نو ملګرو:

ډېرترویج، ډېرتبلیغ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بلوسګرو فاشيستانو او جګړه مارو په وړاندې د يوې بريالۍ مبارزې او د رفورميستانو د ويجاړونکو خيالونو په وړاندې د يو بريالي بريد لپاره، يوه ډېره مهمه مخکنۍ اړتيا زموږ دتبليغاتو کمي او کيفي رغول دي، چې ښايي د زياتو کتابونو، زياتو جزوو، زياتو ورځپاڼو، ښو کتابونو، ښو جزوو او د ښو ورځپاڼو د خپرولو له لارې تر سره شي.

موږ بايد د هر هغه څه په اړه، چې د ولس تر منځ احساس راپاروي او خلک ورسره لېوالتيا لري، غبرګون وښيو، هغه هم چټک غبرګون.

موږ څنګه کولای شوو دا ولسي ژبه، دا د وګړو ژبه زده کړوو؟ د تړلو دروازو او کړکيو تر شا يې زده کولای نشو. يوازې د دروازو او کړکيو په بشپړه پرانيستلو او د هغې تازه هوا ورمو ته، چې ولسي پرګنې يې تنفسوي، په اجازې ورکولو سره يې زده کولای شوو. هغه وخت يې زده کولای شوو، چې د خپل هېواد او ولس د برخليک او راتلونکي په اړه خپل مسووليت احساس کړو.

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library